AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۸/۱۵

# ولس وینىوونکي تاوتریخوالي ته مه‌اړباسئ!

د افغانانو د خپلواکۍ او ژوندغوښتنې سوی الوی بلبل، ګیلامان وزیر ولې د تورو تمبو شاته د ټولو هېر شو؟

هغوی، چې نور وسلهوالي جګړې ته هڅوي، ولې د مبارزینو د قربانۍ پرمهال چوپ او ورک وي؟ موږ ولې خپل مبارزین تر هغو هڅوو، چې د توپ خولې ته یې برابر کړو او بیا مو خوله ګنډلې وي او د ټولیزې ګډې مبارزې په بهیر کې د یوڅه کولو پرځای د ځان پټولو سوړې لټوو؟
موږ د ملي مبارزې یوازې یوه بڼه پېژنو، د ټوپک او جګړې لاره!
زه نه غواړم دلته د (تشدد) یا (عدم تشدد) زړه لانجه وشاربم. په اوسنیو شرایطو کې د دواړو پلویان زیات دي او خپل دلایل هم لري. پر دې هم باور لرم، چې د یوې تاریخي رنې تجربې په توګه، ګڼ ځله ولسونو په زور او وسلوالې مبارزې خپلواکي او نور حقونه ترلاسه کړي دي. خو تر هر ډول تاوتریخوالي، جګړې او وینې بهونې وړاندې ښایي ولس تر دې شعوري بریده راپورته شي، چې خپل (حق)، (رېښتینې خپلواکي) او (غوښتنې) وپېژني.

زموږ ننۍ اصلي ستونزه دا ده، چې زموږ ټولې بدمرغۍ یې راته په دین او کفر پورې تړلې دي. خلک حیران و سرګردان دي، چې د دوی قتلونه، ولږه، محرومیت، له پوهنې بې برخې کېدل، وزګاري او پر دوی روان استبداد و تحجر له دین و بې دینۍ سره څه اړیکه لري؟

نن که د پښتنو په سیمه کې هره ورځ یو قومي مخور او د (سرسړی) وژل کیږي، که د افغانانو خاوره پر سره اور اړول کیږي، که چاودنې و ځانمرګي په خرپ روان دي، لامل یې دا دی، چې موږ نه ځانونه پوهولي، نه خلک.
نه پوهیږو:

ولې وژل کیږو؟
څوک مو وژني؟
ولې مو وژني؟

نن ورځ رېښتیني مبارزین هغوی دي، چې دغو پوښتنو ته ځواب مومي .
د ولس ذهن روښانه کړئ،

راویې خوځوئ،

نور ولس په خپله ښه پوهیږي، چې څه ډول مبارزه وکړي، متشدده که په عدم تشدد ولاړه .
یو بل ته د پیغورونو پرځای یو د بل ترڅنګ ودرېږئ او خپل مبارزین یوازې مه پرېږدئ !
وینتیا، روښانتیا، بدلون!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ